# په خپله خوښه ستنیدل

Paschtunisch
Informationen für Asylbewerberinnen und Asylbewerber
د پناه غوښتونکیو لپاره معلومات

## که ستاسو د پناه غوښتنلیک رد کړی شي نو څه به کیږي؟

تاسو ته به وویل شي چې د پناه لپاره ستاسو غوښتنلیک رد کړی شوی دی او تاسو ته به یوه نیټه درکړل شي چې ترهغې پورې تاسو باید له هیواد څخه ووځئ. دغه ټاکل شوي نیټه عموماً 30 ورځې وي. که د پناه غوښتنلیک د 'ناعادلانه څرګندوني' له کبله رد کړی شي، نو دغه ټاکل شوي نیټه به یوه اونۍ وي. که تاسو پخپله خوښه د دې هیواد څخه لا نه ړئ، تاسو به په زور ویستل کیږئ او خپل کورني هیواد ته به استول کیږئ (شړنه). تاسو به د خپلې شړنې لګښتونه پخپله ادا کوئ او د څو کالو لپاره به تاسو ته دا اجازه نه درکول کیږي چې المان یا د اروپایي اتحادیې (EU) بل کوم هیواد ته داخل شئ (د داخلې بندیز). د مهاجرت د اسنادو پرته تاسو په المان کې نه شئ پاتې کیدی: پولیس هر وخت کولی شي چې تاسو ونیسي او خپل کورني هیواد ته مو ولیږي.

## په خپله خوښه د ستنیدنې انتخاب وکړئ او الماني چارواکي به له تاسو سره مرسته وکړي

که تاسو د دې هیواد څخه د تللو لپاره پیسې نه لرئ، تاسو د REAG/GARP د بیرته ستنیدنې د پروګرام له لارې د مرستې غوښتنه کولی شئ. د REAG معنی په المان کې د پناه غوښتونکیو لپاره له ټولنې سره د یوځای کیدنې او مهاجرت پروګرام او GARP معنی په دولتي مرسته د بیرته ستنیدنې پروګرام ده. مالي مرسته به له تاسو سره پخپله په بیرته ستنیدو او د خپلې ستنیدنې لپاره په پام سره په تیاری کې مرسته وکړي. ستاسو د رخصتۍ او د سفري لګښتونو انتظام به وکړل شي. اضافي مالي مرسته هم موجود ده، د بیلګې په توګه، د سفري سپانسرشپونو یا وظیفو. انتخاب شوي هیوادونو ته په خپله خوښه د بیرته ستنیدونکیو لپاره نوره مرسته هم ورکول کیږي چې هغوی هلته د نوي پیل کولو وړ شي، د مثال په توګه، له هغوی سره به په کار او استوګنځی موندلو کې مرسته وکړل شي. د بیرته ستنیدنې په شخصي مرکه کې په بیلابیلو انتخابونو بحث کیدی شي.

## کور ته د بیرته ستنیدنې په اړه دلته د وړیا وړاندې کیدونکي مشورې څخه استفاده وکړئ



که تاسو غواړئ چې خپل کورني هیواد ته په خپله خوښه ستانه شئ، تاسو دلته د بیرته ستنیدنې له مشاورینو څخه په اطمینان هغه ټولې پوښتنې کولی شئ چې تاسو یې لرئ. د بیرته ستنیدنې مشاورین به له تاسو سره ستاسو په رخصتۍ کې مرسته کوي، چې د REAG/GARP د پیسو لپاره عریضه وکړئ او ستاسو سره به هر هغه مرسته کوي کومه چې پخپله خوښه د بیرته ستنیدونکي کسانو لپاره موجود وي. که تاسو د سفر باوري اسناد نه لرئ، له تاسو سره به د بل پاسپورټ په اسنادو ترلاسه کولو کې هم مرسته وکړل شي. د مشاورت په غونډه کې به له ژباړونکي څخه هم کار واخیستل شي څو دا یقیني کړی شي چې تاسو په هرڅه پوهیږئ. تاسو له ځان سره هم د ژباړنې لپاره د بیرته ستنیدنې د مشاورت مرکز ته څوک راوستلی شئ.

په داسې حال کې چې ستاسو د پناه د غوښتنلیک پروسه روانه وي، تاسو کولی شئ چې د بیرته ستنیدنې د مشاورینو څخه مشوره ترلاسه کړئ. په دې سره به د پناه په حتمي پریکړه څه تاثیر نه کیږي.

که د پناه پروسه لا نه وي بشپړه شوي نو په دغه حالت کې هم پخپله خوښه ستنیدنه ممکن ده. په دغه حالت کې، باید د هیواد د پریښودو نه مخکې تاسو د پناه لپاره خپل غوښتنلیک فسخ کړئ. وروسته له هغه چې تاسو خپل غوښتنلیک فسخ کړئ، ستاسو سفري اسناد به د مهاجرت او کډوالو لپاره فدرالي دفتر (BAMF) د خارجي ثبتونې هغه دفتر ته ولیږي چې ستاسو مسؤل وي (هغه دفتر چې تاسو ته یې د موقتي استوګنې اجازه درکړي وي) او له دغه دفتر څخه ترلاسه کیدی شي.

تاسو دلته په لاندې ادرس د بیرته ستنیدنې د مشورې مرکز موندلی شئ:


**Sebastian Leidinger**
Amt für Migration und Integration
Schützenstraße 69; 88212 Ravensburg
2. OG, Raum 219
Tel.: 0751/85-9886
S.Leidinger@rv.de

**Elisa Müller**
Amt für Migration und Integration
Schützenstraße 69; 88212 Ravensburg
2. OG, Raum 219
Tel.: 0751/85-9857
E.Mueller@rv.de


که تاسو انټرنیټ ته لاس رسی لرئ، تاسو په لاندې ادرس پخپله خوښه د بیرته ستنیدنې په اړه نور معلومات ترلاسه کولی شئ:
www.ReturningfromGermany.de/ps

BAMF | RETURN

برابر شوی په: فبروري 2018